
# کرونا وايروس؛ په چين او نړۍ يې اغېزې



ووهان چې د چين هېواد مرکزي برخه کې د پروت ولايت هوبي مرکز دی، د تېر کال دسمبر مياشتې وروستيو کې د يادې سيمې يو شمېر وګړي په کرونا چې يو ډول وايروسي ناروغۍ ده اخته شول. او تر اوسه يې د چين په ګډون د نړۍ زيات شمېر هېوادونه له سختې وېرې سره مخ کړي دي. دا چې کرونا وايروس څه ډول پيدا شو او په څه ډول خپريږي؟ تر اوسه يې څومره اغېزې درلودلي دي؟ درملنه يې شتون لري او که نه؟ په افغانستان کې يې د خپرېدو اټکل څومره کېدلی شي او د مخنيوي لارې چارې يې کومې دي؟ په دې تحليل کې پرې هر اړخيزه شننه کوو.

## د چين ووهان سيمه

ووهان د چين هېواد په مرکزي برخه کې پروت هوبي ولايت مرکز دی. د وګړو شمېر يې شاوخوا ۱۱ ميليونو ته رسيږي. د دې سيمې ډېری وګړي د خوراکي توکو په برخه کې د بحري حيواناتو له غوښو څخه ګټه اخلي. په دې سيمه کې د بحري حيواناتو او راز راز ځارويو د غوښو پراخه بازارونه شتون لري. پر همدې بنسټ د يادې سيمې ډېری وګړي د ځارويو سره نږدې اوسيږي او د بحري حيواناتو د غوښو پلورلو کاروبار ترسره کوي.

## کرونا وايروس

څو لسيزې وړاندې د دې وايروس اصلي بڼه په حيواناتو کې موندل شوې وه، مګر تېر کال دسمبر مياشتې وروستيو کې د ياد وايروس نوې بڼه په انسانانو کې هم وموندل شوه. د څېړونکو پر باور دغه وايروس يواځې په مار او اسمان ځکالي کې موندلی شی او دا هغه دوه حيوانات دي، چې چينايان يې غوښه د نورو ټولو حيواناتو په شان خامه او پخه استعمالوي ياده دې وي، چې چينايان په خوړو کې حلال او حرام يا ښه او خراب نه پېژني بلکې ټول هغه شيان خوري، چې په اديانو معتقد انسانان خصوصاً مسلمانان يې خوراک حرام ګڼي. دغه نوې وايروسي ناروغي ساري ده او کولی

شي له يو تن څخه بل ته په اسانه توګه ولېږدول شي. د SARS وايروسي ناروغي چې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کلونو ترمنځ د چين په ګډون د نړۍ په يو شمېر نورو هېوادونو کې خپره شوې وه، شاوخوا ۸۰۰ تنه يې وژلي وو.[1] د روغتيايي څېړونکو پر وينا کرونا وايروس خپرېدا کچه ښايي له SARS څخه هم لوړه شي، ځکه تر اوسه يوازې په لومړنيو دريو ورځو کې په ياد وايروس د اخته کسانو شمېر له ۶۲۰۰ څخه لوړ دی. د چين هېواد يې په راتلونکو لسو ورځو کې د لا پراختيا اټکل کوي او په دې توګه کولی شي د ډېرو کسانو ژوند واخلي.

د کرونا وايروس د عام ريزش يا زکام په څېر ناروغي ده، چې اخته تن پکې سر درديږي، تبه او د لوړې کچې ريزش لري. مګر توپير يې له عام يا موسمي زکام سره په دې کې دی چې موسمي زکام له يو تن څخه ۱.۵ تنو ته سرايت کولی شي، په داسې حال کې چې کرونا وايروس کولی شي له يو تن څخه آن ۳.۵ تنو ته انتقال شي چې د وينې کموالي لامل هم ګرځي او نور کسان په دې وايروسي ناروغۍ په تېزۍ سره اخته کړي.[2]

په چين هېواد کې تر اوسه 24324 تنو په شاوخوا کې په يادې وايروسي ناروغۍ اخته شوي، له دې ډلې څخه زيات شمېر اخته کسان په ووهان سيمه کې شتون لري او يادې وايروسي ناروغۍ تر اوسه 490 تنه وژلي دي.[3] د وژل شويو کسانو له نيمايي څخه زياته برخه د ووهان سيمې اوسيدونکي دي، هغه ځای چې د لومړي ځل لپاره پکې دغه وايروسي ناروغي راوټوکېده.[4] مګر په هانګانګ کې څېړونکي بيا اټکل کوي، چې يوازې په ووهان سيمه کې به ۴۴ زره تنه په ياد وايروس اخته شوي وي.[65]

له چين پرته په تبت سيمه او د نړۍ په شاوخوا ۱۷ هېوادونو کې د کرونا وايروس خپرېدل ثبت شوي دي. له هغې ډلې څخه جاپان، جرمني، فرانسه، کاناډا، تايلينډ او وروستۍ هېواد چې د ياد وايروس د شتون پېښه پکې ثبت شوې عربي متحده امارات او يو شمېر نور هېوادونه دي.

په جاپان او جرمني هېوادونو کې هغه کسان چې په ياد وايروس اخت شوي، چين ته يې سفر نه دی ترسره کړی، ولې د هغو کسانو سره نږدې پاتې شوي وو چې په دې وروستيو کې له چين هېواد څخه يادو هېوادونو ته ورستانه شوي دي.

## د کرونا وايروس مخنيوی او درملنه

د کاناډا هېواد ټورنټو کې د Humber river hospital همبر ريور روغتون يو تن ډاکټر ښاغلي Michael Gardam ميخايل ګارډم چې د ساري ناروغيو په برخه کې پراخه زده کړې او تجربې لري، د کرونا وايروس په اړه وايي: تر اوسه دا ډېره لږ ده ترڅو ځرګنده کړو چې دا وايروس په څه ډول خپرېږي او درملنه يې بايد په کوم ډول ترسره کړو؟

[1] http://www.usatoday.com/story/news/health/2020/01/27/coronavirus-death-toll-china-wuhan-virus-outbreak-spreads/4586403002/
[2] https://www.youtube.com/watch?v=dx0bXPTYxpY
[3] http://www.radio.gov.pk/01-02-2020/china-death-toll-due-to-coronavirus-rises-to-259
[4] https://edition.cnn.com/asia/live-news/coronavirus-outbreak-01-30-20-intl-hnk/h_68f5027c1b3ad4c27f70d022074687f6?utm_source=twCNNi&utm_content=2020-01-30T06%3A54%3A04&utm_medium=social&utm_term=link
[5] https://foreignpolicy.com/category/china-brief/

تر اوسه د کرونا وایروس د درملنې لپاره کوم واکسین نه دی جوړ شوی. مګر د روغتیا پالانو پر باور هغه څه چې کولی شي د یاد وایروس د انتقال مخه ډب کړي پر صابون د لاسونو وینځل، د ماسک استعمال او د هغو کسانو سره چې په یاد وایروس اخته شوي وي له هغو څخه لرې اوسېدل دي.

له دې پرته په چین کې ډېری روغتیا پالان په دې باور دي دا چې د ووهان سیمې ډېری اوسیدونکي د بحري حیواناتو له غوښو څخه ګټه پورته کوي او د ځارویو سره نږدې پاتې کېږي هغوی ته پکار دي له خامو غوښو او ځارویو څخه لرې پاتې شي، ځکه پر ډېر باور ښایي له حیواناتو څخه دغه وایروسي ناروغي انسانانو ته لېږدول شوي اوسي.

تېره چهار شنبه د استرالیا هېواد یو شمېر ساینس پوهانو خبر ورکړ، چې په لیبارټرۍ کې یې د کرونا وایروس جوړېدو بڼه یې په بریالۍ توګه وازمایله. او دا کار کولی شي د نړۍ په کچه د یاد وایروس د خپرېدو مخې ډب کولو کې په اغېزناکه توګه مرسته وکړي.[7] چین د کرونا وایروس مخنیوي او کنټرول لپاره ۳.۲۷ بیلیون یوان ځانګړي کړي دي.[8]

## د کرونا وایروس اغېزې

د کرونا وایروس پیدا کېدو وروسته د ووهان سیمه په مصنوعي توګه بنده شوې او خلک یې قرنطین شوي دي. هیڅوک نه شي کولی له یادې سیمې څخه بلې سیمې ته ولاړ شي او یا نور څوک دې سیمې ته راشي.

تقریباً په ټول چین کې کاروبارونه په ټپه ولاړ دي، او په چین کې د نوي لمریز کال د لمانځلو مراسم یې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي.

هغو کسانو چې د نوي کال لمانځلو لپاره یې سوداګریزې بوختیاوې ترسره کړې له پراخو زیانونو سره مخ شوي، ځکه هیڅوک نه شي کولی د کرونا وایروس خپرېدو له وېرې چین ته سفر ترسره کړي او یا هلته په یادو مراسمو کې ګډون وکوي. یوازې د ماسک پلورلو بازار تود دی، ځکه هر څوک کوښښ کوي ترڅو ډېر شمېر ماسکونه راونیسي ترڅو په وایروس د اخته کېدو څخه وژغورل شي.

کرونا وایروس د چین اقتصاد ترڅنګ د یو شمېر نورو هېوادونو په اقتصاد هم ناوړه اغېزې ښیندلي دي. د ملګرو ملتونو د ټوریزم یا سیاحت نړیوالې ادارې پر بنسټ یوازې په ۲۰۱۸ کال کې ۱٦۸ میلیونه چینایان بهرنیو هېوادونو ته په سیاحت تللي وو، او د ۲۷۷ بیلیونو ډالرو په شاوخوا کې یې مصارف ترسره کړي وو چې د یادو هېوادونو په ملي عوایدو کې یې ښه ونډه لرلې وه.[9] مګر اوس د یاد وایروس د خپرېدو له وېرې، چین ته او له چین څخه نورو هېوادونو ته د ټوریزم یا سیاحت په برخه کې په هر ډول تګ راتګ پراخه او سخت بندیزونه لګېدلي دي.

اقتصاد پوهان باور لري که چېرته د چین هېواد بهرنیو هېوادونو ته د خپلو وګړو په سفر بندیز تر شپږو میاشتو دوام ورکړي، نو دا کار کولی شي د نړۍ ټوریزم یا سیاحت برخه کې ۸۳.۱ بیلیون ډالر زیان واړوي چې د نړۍ اقتصادي ځواک د ۰.۱ فیصد پورې را ښکته کولی شي.  په امریکا او جاپان کې پالیسي جوړوونکو ګواښ کړی چې کرونا

---

[7] https://twitter.com/NBCNews/status/1222490354596884480
[8] twitter.com/globaltimesnews/status/1222821805964111873
[9] https://www.wsj.com/articles/from-bangkok-to-the-boulevards-of-paris-absence-of-chinese-tourists-hits-hard-11580295915?mod=e2tw

وايروس به په نړيوال اقتصاد ناوړه اغېزې ولري، او تر دې دمه يې د جاپان پر صادراتو او د عامه کمپنيو ګټو يې اغېزمنې کړي دي.[10]

افغانستان چې په دې وروستيو کې چين هېواد ته د پخوا په پرتله ډېر صادرات لري او له هغه هېواد څخه يو شمېر توکي رالېږدوي، د کرونا وايروس غځېدنه کولی شي په اغېزناکه توګه دا هېواد له اقتصادي ستونزو سره هم مخ کړي.

بلخوا روسيې له چين سره خپلې پولې وتړلې، چې په نړيوال ماركيټ ناوړه اغېزې لرلی شي. په هند کې هم د کرونا وايروس لومړنی پېښه ثبت شوې او که چېرته په اړين وخت کې د روغتيا نړيوال سازمان د سويلي آسيا هېوادونو په اړه د کرونا وايروس مخنيوي لپاره ګامونه پورته نه کړي نو لرې نه ده چې د سويلي آسيا هېوادونه له زياتو هر اړخيزو ستونزو سره مخ کړي. دا ځکه چې په سويلي آسيا کې د افغانستان، بوتان او يو شمېر نورو هېوادونو شتون چې اقتصادي ځواک کچه يې ښکته ده، او د درملنې په برخه کې يو اغېزمند سيستم نه لري ترڅو د ياد وايروس مخنيوی پرې وکړي.[11]


## څه بايد وشي؟

که څه هم د چين هېواد ووهان سيمه کې د کرونا وايروس مخنيوي او درملنې لپاره تر راتلونکې يک شنبې ورځې پورې د څو زره بستريز روغتون جوړېدو چارې چې په لسو ورځو کې يې د جوړېدو اټکل شوی ګړندی کړي دي او کولی شي د يادې سيمې خلکو ژوند وژغوري.[12] مګر اړينه ده ترڅو د استرليا په څېر د نړۍ يو شمېر نور پرمختللي هېوادونه د شته او پرمختلليو امکاناتو لرلو څخه په ګټې اخيستنې سره د کرونا وايروس مخنيوي واکسين ژر تر ژره توليد کړي. ترڅو د چين په ګډون ټوله نړۍ د دې ناوړه وايروس څخه وژغورل شي. افغان چارواکي بايد په چين هېواد کې د افغان محصلينو او هغو افغان کاروباريانو او سوداګرو، چې په ياد هېواد کې اوسيږي په برخه کې نور هم د چينايي چارواکو جدي پاملرنه جلب کړي ترڅو هغوی سره هر راز اغېزناکې مرستې ترسره کړي. په هېواد کې د درملنې او تشخيص په برخه کې د کمزوري سيستم په لرلو سره بايد هغوی تر هغې هيڅا ته اجازه ور نه کړي ترڅو له چين څخه افغانستان ته سفر ترسره کړي. بلخوا هغه وګړي چې د نورو هېوادونو لکه عربي متحده امارات چې د کرونا وايروس پکې ثبت شوی افغانستان ته د سفر پر مهال بايد په لويو هوائي ميدانونو کې له يادو هېوادونو څخه د نويو راستنو شويو وګړو کره تشخيص ترسره شي. ترڅو د معلومو شويو نښو لرونکي کسان له نورو هغو لرې او قرنطين کړای شي او په دې توګه په افغانستان کې د کرونا وايروس مخه ډب کړای شي.

---

[10] https://www.nytimes.com/2020/01/30/business/global-markets.html?smid=tw-nytimes&smtyp=cur
[11] https://www.ft.com/content/403e6677-842e-3e92-9f7b-fa2a5f760ae0
[12] https://www.youtube.com/watch?v=2rUyz8MXorU

# سیستم کانکور صنوف دوازدهم به اصلاحات بنیادی نیاز مند است



عبدالقدیر خموش رئیس اداره ملی کانکور به روز دوشنبه هفتم دلو (۱۳۹۸) در مراسم رونمایی بسته رهنمود امتحانات کانکور بیان داشته است، که با بایومتریک کردن داوطلبان کانکور دست کسانی را که – وی آنها را مافیاها خواند – به نحوی در امور کانکور دخالت می کردند، کوتاه شده است، به گفته وی دیگر هیچ کسی قادر نخواهد بود به عوض کسی دیگری در امتحانات کانکور آزمون را سپری نماید.

پس از آنکه در سال ۲۰۰۱م حکومت جدید به رهبری حامد کرزی تاسیس شد، در کنار سایر نهاد های دولتی به تحصیلات عالی کشور نیز توجه صورت گرفت. پوهنتون های جدید ایجاد و هزاران تن قادر گردیدند از طریق امتحان کانکور به پوهنتون های دولتی و خصوصی راه یابند. اما، با آنهم تحصیلات عالی نه تنها اینکه نتوانسته است خود را مطابق معیارات بین المللی عیار سازد، بل، از کشورهای همسایه ما نیز عقب مانده تر است.

هر چند دستاورد های کمی در عرصه تحصیل در افغانستان قابل لمس است، اما، از نظر کیفی تحصیلات عالی کشور مورد انتقاد شدید قرار دارد. هر چند کیفیت تحصیل تنها به سیستم کانکور مربوط نمی شود، اما، در این میان از نقش کانکور نیز نمی توان در کم کیفیت سازی تحصیلات عالی انکار کرد. در این تحلیل کوشیده شده است که روی مشکلات و اصلاحات سیستم کانکور تماس گرفته شده و مورد بررسی قرار گیرد.

## مشکلات موجود در پروسهء کانکور

تقریبا تمام کسانیکه از مکاتب در افغانستان فارغ می شوند می خواهند که به تحصیلات شان تا سطوح عالی ادامه دهند. اما، رسیدن به این خواست برای همه ممکن نیست. برای اینکه فارغان مکاتب بتوانند به خواست های تحصیلی

شان برسند به ناچار یا باید از فلتر کانکور بگزرند و یا هم پول کافی داشته باشند تا تحصیلات خود را در پوهنتون های خصوصی ادامه دهند. متاسفانه هر دو گزینه عاری از دشواری های جدی در وضعیت افغانستان نمی تواند باشد. رفتن از مسیر کانکور به سوی پوهنتون ها اگر به معنی گذشتن از «هفت خوان رستم» نباشد کمتر از آن هم نیست.

از مشکلات متعلمین در دورهء لیسه، پایین بودن کیفیت دروس مکاتب می باشد. درست در همین زمان است که متعلمین خود را برای سپری کردن امتحان کانکور نیز آماده می نمایند. پایین بودن کیفیت درس در لیسه های دولتی و خصوصی باعث آن میگردد که جوانان به کورس های خصوصی بخاطر آمادگی کانکور رو آورده و مصارف اضافی را متحمل شوند.

مشکل دیگر در دوران لیسه، کثرت مضامین است و یک متعلم برای اینکه بتواند از فلتر کانکور عبور نماید ناچار است که به تعداد بیشتر از ۷۰ جلد کتاب را بطور دقیق و موشگافانه مطالعه نماید. در حالیکه رشته بندی در دوران لیسه می تواند این مشکل را تاحد زیادی تقلیل دهد.

عدم آشنایی متعلمین به روش امتحان کانکور و هراس از این امتحان؛ از معضلات دیگری است که داوطلبان کانکور با آنها دست و پنجه نرم می کنند. تشویش و اضطراب به خودی خود،چانس کامیابی داوطلبان را در آزمون کانکور کم می کند. بی نظمی و آلودگی صوتی در محل های که امتحان برگزار می شوند از مشکلات های دیگر در جریان امتحان کانکور به حساب می آیند.

در روز امتحان کانکور برای داوطلبان حد اوسط در حدود ۱٦۰ دقیقه وقت داده می شود که ۱٦۰ سوال کانکور را جواب بدهند، در حالیکه کجایی این کار می تواند منطقی باشد درحالیکه یک سوال ریاضی حد اقل ۱۰ دقیقه وقت نیاز دارد تا حل شود.

یکی از مشکلات دیگری را که سیستم کانکور در افغانستان ببار آورده است این است که باعث عدم جا به جای استعداد ها می شود. مثلا کسی استعداد در مسایل حقوقی و سیاسی دارد زمانیکه نمره فاکولته حقوق و علوم سیاسی را پوره کرده نمی تواند، می رود مثلاً به فاکولته ادبیات، که این امرکشنده علاقه و استعداد فرد دریک وقت است. شاید کم کسی قادر باشد که در رشته غیر دلخواهش متخصص شود. و نیز تعدادی از مضامین که در مکاتب و یا هم در کورس های آموزشی خصوصی برای سپری کردن امتحان کانکور مطالعه می شوند، در فردای عبور از کانکور و وارد شدن به محیط پوهنتون اصلا به درد محصل نمی خورد.

### ضرورت اصلاحات در سیستم اخذ کانکور

به دلیل اینکه کانکور یک پروسه ملی است، برای جلوگیری از سواستفاده های سیستماتیک از این روند، ایجاب می کرد تا اداره مستقلی برای مدیریت آن ساخته شود. در ۲۲ اسد سال ۱۳۹۷ رئیس جمهور کشور طی فرمانی اداره ملی امتحانات را به حیث یک ارگان مستقل از وزارت تحصیلات به میان آورد.

در دوران حکومت وحدت ملی در سیستم کانکور اصلاحات دیگری نیز به میان آمد که در خور ستایش است. یکی از این اصلاحات بایومتریک شدن داوطلبان می باشد که از تقلب کاری در کانکور تا حدودی زیادی جلوگیری نموده است. قبل ازاین یک شخص می توانست به عوض شخص دیگر وارد صحنه گردیده و امتحان بدهد. با وصف بایومتریک شدن سیستم کانکور،هنوز هم شایعاتی مبنی بر دستکاری نتائج کانکور، شنیده می شود که امیدواریم مسئولان محترم اداره‌ء ملی کانکور متوجه آن باشند.

## پیشنهادات و راه حل ها

برای اینکه بتواند کیفیت تحصیل در افغانستان بهتر شود، اصلاحات بوجود آمده از سوی حکومت وحدت ملی نمی تواند کافی باشد، و سیستم کانکور افغانستان به یک تغییر بنیادین و ماهیتی نیاز دارد.

در نخست باید از فارغان صنوف نهم مکاتب یک امتحان کانکور خفیف برای رشته بندی گرفته شود که شاگردان در این زمان حق یک انتخاب داشته باشند، تا قادر شوند رشته های دلخواه شان را انتخاب نمایند. پس از رشته بندی ( وزارت معارف نصاب تعلیمی و تربیتی خویش را طوری عیار سازد که بیشترین توجه روی موضوعاتی صورت گیرد که به درد همان رشته ها بخورد) در امتحان کانکور دوم که از فارغان صنوف دوازدهم مکاتب گرفته می شود، سوالات طوری ترتیب شود که بیشتر برگرفته شده از مضامین اختصاصی رشته های مورد نظر باشد. این از دو جهت مفید است، یکی اینکه داوطلبان از قبل در مورد امتحان کانکور معلومات می داشته باشند و دیگر هم اینکه معلومات اختصاصی شان در پوهنتون نیز به درد شان می خورد.

سهمیه بندی کانکور در سالهای اخیر یک بحث جنجال برانگیز شده است. شاید این سهمیه بندی از نظر سیاسی یک امر درست تلقی شود، اما از نظر تعلیمی نه تنها اینکه نمی تواند کمکی به پیشرفت کیفیت تحصیل در کشور نماید بلکه می تواند دروازه های فساد و اقرباء پروری را به شکل دیگری در تحصیلات عالی افغانستان باز نماید. بهترین راه این است که حکومت افغانستان به عوض سهمیه بندی روی بهبود وضعیت معارف در مناطقی بیشتر تمرکز کند که تعداد کمتری از کاندیدان را به امتحان کانکور تقدیم می نمایند.

اگر امتحان کانکور هر قدر هم شفاف برگزار شود، و کیفیت درسی در مکاتب کشور بلند برده نشود با آنهم نمی توانیم کیفیت تحصیلی را در کشور بهتر بسازیم. چون پیش نیاز تحصیلات بهتر را تعلیمات خوبتر تشکیل می دهد. بنا بر این ضرور است که به صورت عموم، روی کیفیت تعلیمی و تربیتی از سوی نهاد های دولتی و خصوصی توجه بیشتری صورت گیرد.

با آنکه از کاهش دخالت زورمندان در کانکور گفته می شود با آنهم تا هنوز این دخالت ها به شکل کامل از بین نرفته و اخبار دقیقی از مداخله‌ء زورمندان و اصحاب قدرت در صحنه‌ء امتحان از مناطق مختلف گزارش داده می شود. حکومت باید به همکاری اداره‌ء ملی کانکور؛ این مداخلات ظالمانه را به صفر برساند.

## نتیجه گیری

تشکیل اداره‌ء ملی کانکور و بایومتریک شدن سیستم امتحان، گامهای خوبی در راستای شفاف سازی اخذ امتحان کانکور در کشور بوده می تواند اما برای اینکه بتواند کارایی خود را بالا ببرد به تغییرات ماهیتی دیگری نیز نیاز مند است. بعضی ازین اقدامات به دوره مکتب ارتباط می گیرد، مثلاً اینکه از صنوف نهم به بعد شاگردها رشته بندی شوند تا دخول به پوهنتون ها، ساده تر و تخصصی تر گردد.

سیستم کانکور در افغانستان باید طوری اتوماتیک و عیار ساخته شود که اراده انسانها نتواند در نتایج آن دخالت داشته باشد. به جای سهمیه بندی کانکور لازم است که حکومت روی بهبود وضعیت معارف در جاهای کار کند که گفته می شود عقب افتاده هستند. سیاسی سازی روند تعلیم و تحصیل می تواند برای افغانستان خیلی خطرناک باشد، چون کیفیت تحصیل را پایان آورده و آنرا در خدمت دستگاه حاکم قرار می دهد. بهبود کیفیت درسی مکاتب و جلوگیری از دخالت های زورمندان در روند امتحان کانکور، برای داشتن یک تحصیلات عالی باکیفیت امری حیاتی می باشد.

**ارتباط با ما:**

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه با ما شریک سازید.**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویب‌سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.af

**شمارۀ تماس دفتر:** 784089590 (0) 93 +